د برابر او سوله ایز
افغانستـــان لپاره

رواداری
RAWADARI

**رسنیـزه اعلامیـه**
**۱۴۰۲ د وري ۴مه**

# د طالبـــانو د رهبـر د فرمانونو د اجرا، څارنې او تعقیب بنسـټ ته د لویې څـــارنوالۍ راټیټـول

د طالبانـو رهبـر مـلا هیبـت‌الله اخنـدزاده پـه یـو شـفاهي فرمـان سـره، د لویـې څارنوالـۍ بنسـټ، چـې د هیـواد د عدلـي او قضايـي سیسـتم اصلـي بنسـټ دی، «د احکامـو او فرمانونـو د څارنـې او تعقیـب لـوی ریاسـت» تـه اړولـی. پـه دې فرمـان سـره د لویـې څارنوالـۍ نقـش او مقـام د طالبانـو د رهبـر د فرامینـو اجـرا تعقیـب او څارنـې تـه راټیـټ شـوی، او لـه جرایمـو سـره د مبـارزې، د عدالـت تامیـن او د هیوادوالـو د بنسـټیزو حقونـو د ملاتـړ پـه برخـو کـې د لویـې څارنوالـۍ ذاتـي صلاحیـت سـلب شـوی دی.

دا لومـړی قضايـي بنسـټ نـه دی چـې د طالبانـو لـه خـوا منحـل شـوی؛ د ۲۰۲۱ کال د اګسـت پـر ۱۵مـه واک تـه د دې ډلـې د بیـا راګرځېـدو راهیسـې، د افغانسـتان د بشـر حقونـو خپلـواک کمیسـیون، د ټاکنـو د کمیسـیونونو، د ښـځو چـارو وزارت، او ښـځو او ماشـومانو د تاوتریخوالـي سـره د مبـارزې ځانګـړي محاکـم او څارنوالـۍ پـه ګـډون نـور معتبـر ملـي جوړښـتونه او بنسـټونه هـم لـه منځـه تللـي، چـې د بشـر حقونـو د ارزښـتونو د ملاتـړ، د قانـون د حاکمیـت او د خلکـو د حقونـو د تامیـن پـه برخـو کـې یـې کار او فعالیـت کاوه.

د رواداري مونډنـې ښـيي چـې طالبانـو پـه تېـرو ۱۹ میاشـتو کـې، جزایـي او مدنـي دوسـیو تـه پـه رسـېدنه کـې، پـه قانـون کـې د ذکـر شـویو اصولـو او الزاماتـو لـه رعایـت پرتـه، او د څېړنـې او د جـرم د اثبـات اړتیـا تـه لـه پاملرنـې پرتـه، افـراد پـه سـلیقه وي ډول محاکمـه او مجـازات کـړي دي.

دا مهـال، د لویـې څارنوالـۍ د قانونـي وظایفـو پـه رسـمي او قصـدي حذفولـو، او د طالبانـو تـر کنتـرول لانـدې محاکمـو تـه پـه نامحـدودو او تـر قانـون لـوړو صلاحیتونـو قایلیـدو، ویـلای شـو چـې د عدالـت د تامیـن هیلـه نـه ده پاتـې، پـه ځانګـړي ډول پـه داسـې وضعیـت کـې چـې اساسـي قانـون لغـوه شـوی او مخکنـي جزایـي قوانیـن، او د محاکمـو د قانونـي دنـدو او واکونـو د تشـکیل قانـون هـم عمـلاً تعلیـق شـوي دي. دا چـاره پـه واقعیـت کـې د دې ښـکارندويي کـوي چـې حاکـم مقامـات پـه هیـواد کـې د عـادل او صالـح قضايـي نظـام د تامیـن لپـاره کومـه اراده نـه لـري.

سـربېره پـر دې، دا فرمـان بـه د عادلانـه محاکمـې د اصولـو او موازینـو نقـض، دوسـیو تـه د قانونـي رسـیدنې تاخیـر او د محبوسـینو بـې سرنوشـتۍ ، د فسـاد ارتـکاب، او پـه پایلـه کـې د بشـر حقونـو لا ډېـر نقـض تشـدید کـړي.

رواداري د دې اقـدام د بـدو پایلـو اړونـد پـه جـدي اندېښـنې څرګندولـو، لـه حاکمـو مقاماتـو غـواړي، چـې د عدالـت تامیـن، د قانـون حاکمیـت او د منصفانـه او د بشـر حقونـو پـر موازینـو ولاړ قضایـي سیسـتم پـه ایجـاد، او هـم د افغانسـتان د ملـي ارزښـتونو او بنسـټونو پـه ساتنـه کـې، پـر خپلـو قانونـي مکلفیتونـو عمـل وکـړي.

پای